رسول الله صلى الله عليه وسلم به اكثره دا ويل چې: «يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»، «اې د زړونو اړوونكيه ذاته! زما زړه په خپل دين ثابت كړه»

له انس رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به اكثره دا ويل چې: «يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»، «اې د زړونو اړوونكيه ذاته! زما زړه په خپل دين ثابت كړه»، نو ما وويل: اې د الله رسوله! مور پر تا ايمان راوړى او پر هغه څه چې ته پرې راغلى يې نو آيا ته پر مور وېرېږې؟ هغه وويل: «نَعَمْ، إِنَّ القُلُوبَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ»، «هو، يقينا چې زړونه د الله تعالى له گوتو څخه په دوو گوتو كې دي، هر ډول يې چې وغواړي همغسې يې اړوي».

[صحيح دى] [الترمذي او احمد روايت كړى دى]

د رسول الله صلى الله عليه وسلم زياتره دعاګانې له الله تعالى څخه په دين او اطاعت د استقامت او له انحراف او ګمراهۍ څخه د ځان ساتلو غوښتنه وه. نو انس بن مالک رضي الله عنه په دې خبره حيران شو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ولې دا دعا دومره زياته كوي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې زړونه د الله تعالى له گوتو څخه دوو گوتو تر منځه دي، او هر ډول چې وغواړي هغسې يې اړوي، نو زړه چې دى د ايمان او كفر ځاى دى او زړه د زياتو تغيراتو له امله قلب بلل شوى دى؛ ځكه چې دا په اوړيدلو راوړيدلو كې له كتوۍ (ديګ) نه هم زيات سخت دى كله چې په خوښىدلو راشي، نو چاته چې الله وغواړي زړه يې په هدايت سره ټينګ او په دين سره ثابت كړي، او چاته چې الله وغواړي نو زړه يې له هدايت څخه بې لاريتوب او ګمراهۍ ته واړوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3142